**ایا داسې څوک شته چې د ښکېلاکګرې امریکا نفاق بربنډ کړي**
**او په نړیوال نظم کې د بدلون غږ پورته کړي؟!**

**خبر:**
د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن د روان کال د اګېست په درېیمه د افغانستان له ولسمشر اشرف غني سره په یوه ټلیفوني اړیکه کې «له افغانستان سره د امریکا د پیاوړې او تلپاتې ژمنې» په اړه خبرې وکړې. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د خبرپاڼې پر بنسټ دواړو لوریو د طالبانو بریدونه، چې بشري حقونو او انساني ژوند ته یې ډېره کمه پاملرنه کېږي وغندل او همدارنګه د افغانستان د سولې د خبرو اترو او سیاسي تفاهم په اړتیا یې ټینګار وکړ. خبرپاڼه زیاتوي چې دوی د سیاسي تفاهم په ټول شمولوالي، د ښځو او لږکیو په شمول د ټولو افغانانو حقونو ته په درناوي، د ولسمشر په اړه د خلکو د ټاکنې په حق او د امریکا او د هغې د متحدینو پر وړاندې د افغانستان د خاورې په نه کارولو باندې ټینګار وکړ.

**تبصره:**
د امریکا حکومتونه د افغانستان د اشغال له پیله تر اوسه د یوې شېبې لپاره هم، نه له خپلو خلکو او نه هم د افغانستان له خلکو سره رېښتیني وو. امریکا د ښکېلاک په لومړیو کې د ملت جوړونې، دولت جوړونې، ډیموکراسۍ، بیارغاونې، د ښځو او بشري حقونو په اړه خبرې کولې، په داسې حال کې چې ټرامپ او بایډن په خورا ځرګنده توګه په افغانستان کې د امریکا موخې د یادو شعارونو سره خلاف اعلان کړلې. ټرامپ وویل: «موږ ملت جوړونه نه کوو، موږ تروریستان وژنو» او «په افغانستان کې مو شتون د وخت ضایع کول دي». اوس بایډن هم وایي چې: «موږ افغانستان ته د ملت جوړونې لپاره نه وو تللي».

امریکا د افغانستان تر ښکېلاک او د دوی پر وړاندې د افغانستان د مجاهد ولس تر سخت مقاومت وروسته، چې افغانانو ته یې درانه ځاني او مالي تلفات واړول، د سولې د پروسې زمزمه پیل کړه. دوی د دوحې تر تړون وروسته د خپلو سرتېرو د وتلو او اوس د دغه پروسې د بشپړېدلو په اړه خبرې کوي. په داسې حال کې چې د امریکا هوایي ځواکونه هره ورځ د طالبانو سنګرونه بمباروي، چې زیاتره وخت ملکي خلک، ماشومان او ښځې پکې له منځه ځي او یو زیات شمېر نور یې له خپلو کورونو څخه بې ځایه کېږي.

نو یوه شئ چې امریکا د افغانستان د اشغال په اړه هم خپل ولس، هم نړۍ او هم افغانانو ته دروغ ویلي دي او بله شئ چې د سولې پروسه هم ښکرور دروغ دي. ځکه هغه د سولې پروسه نه، بلکې له افغانستان څخه د امریکا او ناټو ځواکونو د خوندي ایستلو پروسه ده. اوس هم امریکا له یوې خوا له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو ګام په ګام وتل اعلانوي، خو له بل پلوه د جګړې په میدانونو کې د توازن په موخه د خپل لاسپوڅي دولت په ګټه بمبارد کوي. همداراز امریکا افغان ځواکونه تمویل او تجهیزوي او د بهرنیو چارو وزیر یې له اشرف غني سره پر ټلیفون «له افغانستان سره د متحده ایالاتو د پیاوړې او همېشني تعهد» خبره کوي، ترڅو د افغانستان خلک یو ځل بیا له یوې تیارې شوې جګړې سره مخ کړي او له دې لارې له افغانانو، په افغانستان کې د خپلو لګښتونو، تلفاتو او شرموونکې ماتې انتقام واخلي او پرې نږدې چې فاتحه اسلامي ډله په امت کې د استعمار ضد نورو ډلو لپاره الهام ښونکې نمونه وګرځي.

دغه بالفعل او بالقوه شیطان په دې هم بسنه نه کوي، بلکې د افغانانو په منځ کې د وحشت د فضا جوړولو لپاره د سفارتخونو، یوناما، سیګار او بشري حقونو د کمیسیون لخوا داسې راپورونه خپروي، څو داسې وښیې چې افغانستان نور د وحشت او وېرې ځای دی او نور د دوی د ژباړونکو او د یرغلګرو ځواکونو د همکارانو لپاره د ژوند کولو ځای نه دی. له همدې امله یې امریکا او اروپا ته د دوی د لېږد بېلابېل پروګرامونه اعلان کړي دي. په داسې حال کې چې د جګړې، بې کارۍ، بې وزلۍ او بې کورۍ دغه وضعیت خپله امریکایانو او په نظام کې د دوی د مزدورانو تر څنګ د پاکستان، ترکیې، ایران، هند، قطر، اماراتو او سعودي لاسپوڅو حکومتونو پر افغانانو تپلی دی.

په نړۍ او امریکا کې ویښ وجدانونه باید له ښکېلاکګرو وپوښتي، چې ایا په افغانستان کې ددغه وضعیت یوازینی لامل خپله امریکا او د دوی ملګري نه دي؟! آیا دغه ناوړه وضعیت همدا اوس د امریکا لخوا لا نه ګړندی کېږي؟!

د افغانستان لپاره د امریکا د بیا جوړونې د سرمتفش دفتر (سیګار) په خپل یوه تازه راپور کې ویلي دي چې افغان حکومت د (پایښت له ناورین) سره مخ دی. ایا دا خپله امریکا نه ده چې جګړه یې د جمهوریت د پایښت، د تېرو شلو کلونو د ارزښتونو او ... لپاره سخته کړې ده، له یوې خوا یې له افغانستان څخه د خپلو پوځونو د خوندي وتلو لپاره له طالبانو سره هوکړه لیک لاسلیک کړی دی او له بلې خوا دولت تجهیزوي او تمویلوي او د سقوط مخنیوی یې کوي او د بمبار له لارې د جبهو توازن ساتي؟!

پر همدې بنسټ طالبان او نور ټول هغه اړخونه چې په زړونو کې یې د ایمان یوه ذره هم شتون ولري، د امریکا دغه نفاق باید درک کړي او د خپلمنځي جګړې، ملکي تلفاتو او عام المنفعه بنسټونو د ورانولو پر ځای دې د ښکېلاکګرو او د دوی د پاتې شوونو

پر وړاندې سره متحد شي او د ښکېلاکګرو او د دوی د مزدورانو د وروستي سرتيري تر وتلو پورې دې جهاد وکړي او د امت بنسټيزې قضيې ته چې يوه پېړۍ کېږي له نړيوال ډګر څخه ليرې شوې ده د خورا لويې فريضې په توګه جدي پاملرنه وکړي او د سيمې د مسلمانانو او حزب التحرير د دعوتګرانو په مرسته دې د راشده منهج پر بنسټ خلافت تاسيس کړي. پرېنږدئ چې امريکا او متحدين يې د اسلام په جامه کې يو سېکولر نظام د افغانستان په مجاهد ولس وتپي. ځکه چې دا نظام نه د افغانانو ستونزه حلولی شي او نه الله سبحانه وتعالی ته د منلو وړ دی.

**سيف الله مستنير**

**د حزب التحرير - ولايه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رييس**